# دَ تیموتیوس په نُوم دَ پولوس رسُول دویم خط

## سلام

١ ١ دَ پولوس له طرفه چه دَ خُدائے په مرضئ دَ مسیح عیسیٰ رسُول دے، اَؤ دَ
مسیح عیسیٰ په یووالی کښے دَ هغه ژوندُون پیغام آؤروی چه خُدائے ئے وعده کړے
ده، ٢ دا زما دَ خوږ زوی تیموتیوس په نُوم لیکلے شی،

په تا دِ دَ پلار خُدائے اَؤ زمُونږ دَ مالِک مسیح عیسیٰ فضل رحم اَؤ سلامتی نازله وی.

## دَ زیری وفادار

٣ زَهٔ دَ هغه خُدائے شکر کوم دَ چا عبادت چه زَهٔ په صفا زړهٔ دَ پلارُونو نیکُونو په
شان کوم، اَؤ هر وخت په خپلو دُعاګانو کښے تا یادوم. ٤ اَؤ ستا اوښکے چه
رایادے کړم نو ستا دَ مُلاقات خواهش لرم چه خوشحالی بیا مُومم. ٥ اَؤ ما ته ستا
هغه بے ریا ایمان رایادیږی کوم چه اول ستا نیا لوئیس اَؤ ستا مور یُونیکے لرلو، اَؤ زما
یقین دے چه تهٔ ئے هم لرے. ٦ په دے وجه زَهٔ تا ته دا خبره دریادوم چه تهٔ دَ
خُدائے هغه نعمت وځلوه کُوم چه زما دَ لاس دَ کیښودلو په وسیله تا ته حاصل دے.
٧ ځکه کُوم رُوح چه خُدائے مُونږ ته راکړے دے، دَ ویرے دَ پاره نه، بلکه دَ قُدرت، دَ
مینے اَؤ په نفس قابُو کولو طاقت دَ پاره.

٨ نو بیا زمُونږ دَ مالِک په باب کښے دَ ګواهئ ورکولو اَؤ له ما نه چه دَ هغهٔ قیدی یم،
شرمیږه مه، بلکه دَ خُدائے دَ قُدرت په مُطابق دَ زیری دَ خاطره ما سره تکلیفُونه وزغمه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ چه مُونږ ته ئے خلاصُون راکړو اَؤ راوئے بللُو چه دَ هغهٔ خلق شُو، نهٔ چه زمُونږ دَ
کارُونو په وسيله، بلکه په خپله خاص اِراده اَؤ دَ هغه فضل په مُطابق چه دَ مسيح عيسىٰ
په وسيله په مُونږ دَ ازل نه وشو. ۱۰ خو اوس زمُونږ دَ خلاصوُونکی مسيح عيسىٰ په
راتلو سره ښکاره شو چه مرګ ئے نِشت کړو، اَؤ غير فانی ژوندون ئے دَ هغه زيری په
وسيله ښرګند کړو.

۱۱ دَ هغه زيری دَ تبليغ دَ پاره زهٔ رسُول اَؤ اُستاذ مقرر شوم، ۱۲ اؤ په دِے وجه زهٔ دا
تکليفُونه هم زغمم اَؤ شرميږم نه، ځکه چه په چا چه ما ايمان راوړے دے هغه پيژنم، اَؤ
زما يقين دے چه څهٔ چه هغهٔ ما ته سپارلی دی تر هغے ورځے پورے هغه دَ هغهٔ
حفاظت کولے شی. ۱۳ کُومے صحيح خبرے چه تا له ما نه دَ هغه ايمان اَؤ مينے
سره چه په مسيح عيسىٰ کښے دی واؤريدے، هغوئ نمُونه وګڼه. ۱۴ دَ رُوحُ القُدس په
وسيله چه په مُونږ کښے اوسی دَ هغه ښيز حفاظت وکړه چه تا ته سپارلے شوے دے.

۱۵ لکه چه تهٔ خبر ئے چه دَ ايشيا صوبے ټولو خلقو زهٔ پريښودلم چه په هغوئ کښے
فوګِلوس اَؤ هِرموګينيس هم دی. ۱۶ مالِک دِ دَ اونسيفوروس په کورنئ رحم وکړی
ځکه چه زهٔ هغه اکثر دَ غمُونو نه خلاص کړے يم، اَؤ زما په قيد ونهٔ شرميدلو، ۱۷ بلکه
هر کله چه هغه رُوم ته راغے نو ډير په کوشِش ئے زما لټُون وکړو اَؤ زهٔ ئے ومُوندلم.
۱۸ زهٔ غواړم چه مالِک دِ په هغه لويه ورځ په هغهٔ رحم وکړی، اَؤ هغهٔ چه په اِفسوس
کښے کُوم خدمتُونه وکړل دَ هغے نه تهٔ ښهٔ خبر يئے.

## دَ مسيح عيسىٰ ښهٔ سپاهی

۲ ۱ نو اَئے زما زويه! ته په هغه فضل چه په مسيح عيسىٰ کښے دے، مظبُوط شه.
۲ اَؤ کُومے خبرے چه تا دَ ډيرو ګواهانو په وړاندے زما نه آؤريدلی دی هغه دَ داسے
ديانتدارو سړو په حواله کړه څوک ئے چه نورو ته دَ ښودنے لائق وی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ دَ مسیح عیسیٰ دَ یو ښهٔ سپاهی په شان ما سره په سختو زغملو کښې شریک شه.
۴ یو سپاهی چه جنګ له ځی نو هغه دَ دُنیا په معاملو کښې ځان نهٔ نښلوی دَ دے دَ
پاره چه خپل افسر خوشحاله کړی. ۵ لوبغاړی هم تر څو چه په قانُونی طور لوبه
ګټلې نهٔ وی نو دَ ګټې سهره ورته نهٔ شی به سر کیدے. ۶ کُوم دهقان چه محنت
کوی نو دَ فصل وړُومبئ حِصه هغهٔ ته ورکول په کار وی. ۷ څهٔ چه زَهٔ وایم په هغې
باندې غور وکړه ځکه چه مالِک به تا ته دَ ټولو خبرو پوهه درکړی.

۸ عیسیٰ مسیح یاد ساته چه دَ مړو نه راژوندے شوے دے اَؤ دَ داؤد دَ نسل نه دے،
یعنې زما دَ زیری په مُطابق، ۹ دَ چا دَ پاره چه زَهٔ دَ یو بد کار په شان سختئ زغمم
تر دے چه قید هم یم، خو دَ خُدائے کلام قید نهٔ دے. ۱۰ په دے وجه زَهٔ دَ غوره شوو
دَ خاطره دا هر څهٔ په ځان تیروم دَ دے دَ پاره چه هغوئ هم دَ هغه خلاصُون چه دَ
مسیح عیسیٰ په وسیله دے دَ آبدی جلال سره خاوندان شی. ۱۱ دا خبرے رښتیا دی
چه :

”که مُونږ دَ هغهٔ سره مړهٔ شوُو نو دَ هغهٔ سره

ژوندی هم شوُو.

۱۲ که مُونږ سختئ وزغمُو نو دَ هغه سره به بادشاهی هم کوُو،

که مُونږ هغه رد کړو نو هغه به مُونږ هم رد کړی.

۱۳ که مُونږ بے وفا شُو خو هغه به وفادار پاتے شی،

ځکه چه هغه دَ خپل ذات نه خلاف هیڅ نهٔ شی کولے.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## قبُول شوے کار کُن

۱۴ دا خبرے هغوئ ته وریادے کړه اَؤ دَ مالِک په وړاندے پرے دا تاکید وکړه چه
لفظی تکرار دِ ونۀ کړی، ځکه چه دَ دے نه هیڅ نۀ جوړیږی بلکه آؤریدُونکی پرے
ورانیږی. ۱۵ خپل ځان دَ خُدائے په وړاندے مقبُول اَؤ دَ یو داسے کار کُن په شان دَ
پیش کولو کوشِش وکړه چه دَ خپل کار نه نۀ شرمیږی، اَؤ څوک چه دَ حق کلام تعلیم په
صحیح طور ورکوی. ۱۶ اَؤ دَ فضُولو خبرو نه ځان ساته چه داسے سړے نور هم په
بے دینئ کښے ترقی کوی. ۱۷ اَؤ دَ هغوئ خبرے لکه دَ شینی په شان ګزک زیاتوی،
اَؤ هُمیناوس اَؤ فیلِتوس داسے خلق دی ۱۸ اَؤ چه هغوئ په دے وینا چه قیامت شوے
دے دَ حق نه ګُمراه شوی دی اَؤ دَ بعضو خلقو ایمان خرابوی. ۱۹ خو بیا هم هغه بُنیاد
چه خُدائے ایښے دے، مظبُوط دے اَؤ په هغۀ دا لیکلی دی چه مالِک خپل خلق پیژنی،
اَؤ څوک چه دَ مالِک نُوم آخلی، هغه دِ دَ شرارت نه ځان وساتی.

۲۰ په لوئے کور کښے نۀ یواځے دَ سرو سپینو لوښی وی بلکه دَ لرګی اَؤ خاورین
لوښی هم وی، چه څۀ خاص اَؤ څۀ عام وی. ۲۱ پس هغه څوک چه دَ دے نه خپل
ځان جُدا اَؤ پاک ساتی هغه به دَ خاص لوښی شی اَؤ مُقدس کیږی به اَؤ دَ مالِک دَ کار
لائق اَؤ هر نیک کار ته به تیار ولاړ وی. ۲۲ دَ ځوانئ دَ خواهشاتو نه تیښته کوه، اَؤ
څوک چه په پاک زړۀ دَ مالِک نه دُعا غواړی، دَ هغوئ سره دَ صداقت، ایمان اَؤ مینے
اَؤ دَ صُلحے طلب ګار اوسه. ۲۳ خو دَ بے وقوفئ اَؤ ناپوهئ دَ بحثُونو نه ځان په ډېره
ساته، ځکه چه تا ته معلُومه ده چه دَ دوئ نه جګړے جوړیږی. ۲۴ اَؤ دا مُناسب نۀ دی
چه دَ مالِک خادم دِ جګړے کوی، بلکه هغه دِ دَ ټولو سره نرمی کوی اَؤ دَ تعلیم ورکولو
لائق اَؤ صبرناک دِ وی. ۲۵ اَؤ مُخالفت کوُونکی دِ په نرمئ سمولے کیدے شی، چه
خُدائے هغوئ ته دَ توبے ویستو طاقت ورکړی اَؤ هغوئ حق وپیژنی. ۲۶ په دے وجه
به پوه شی اَؤ دَ ابلیس دَ دام نه بچ شی چه هغۀ دَ خپلے مرضئ دَ پُوره کولو دَ پاره نیولی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی.

## په آخری ورځو کښے دَ خلقو اَخلاقی حالت

۳ ۞۱ خو بیا دا یاد لره چه په آخری ورځو کښے به بد وختُونه راځی. ۞۲ اِنسان به خود غرضه، دَ زرو دوست، لافے کوُونکے، مغروره، بد زبانه، دَ مور پلار نافرمانه، ناشکره، بے دینه. ۞۳ بے مروته، سخت زړۀ، الزام لګوُونکے، نۀ زغمُونکے، تُند مِزاجه، دَ نیکئ دُښمن، ۞۴ دوکه باز، بے پرواه، کبرژن، دَ خُدائے په نسبت عیش زیات خوښوُونکے وی. ۞۵ هغوئ خو به په ظاهره دَ دینداریٔ نمائش کوی خو اثر به ئے نۀ قبلوی. نو دَ داسے خلقو نه ځان ساته. ۞۶ په دوئ کښے هغه خلق دی ځوک چه کُورونو ته په څۀ چلول ورننوزی اَوۡ هغه خرابے ښځے قابُو کوی ځوک چه په ګُناهُونو کښے راګیرے وی اَوۡ دَ قِسما قِسم خواهشُونو په ولقه کښے وی. ۞۷ اَوۡ سره دَ دے چه داسے ښځے همیشه دَ زده کولو کوشِش کوی خو دَ حق پیژندو ته نۀ وررسی. ۞۸ اَوۡ څۀ رنګ چه ینیس اَوۡ یمبریس دَ مُوسیٰ مُخالفت کړے وو، هغه رنګ دوئ هم دَ حق مُخالفت کوی. دا هغسے خلق دی دَ چا عقل چه وران شوے وی اَوۡ دَ ایمان په مُطابق قبُول شوے نۀ وی. ۞۹ خو هغوئ به ترقی ونۀ کړی ځکه چه دَ هغوئ ناپوهتیا به په ټولو خلقو ظاهره شی لکه چه دَ هغوئ هم ظاهره شوے وه.

## آخری نصیحت

۞۱۰ خو تۀ زما دَ تعلیم، چال چلن اَوۡ دَ ژوند دَ مقصد نه ښۀ خبر یئے اَوۡ تا ته زما ایمان، زغم، مینه اَوۡ صبر هم معلُوم دی. ۞۱۱ تۀ خبر یئے چه ما څنګه تکلیفُونه وزغمل اَوۡ څنګه وربړولے شوم، یعنے هغه تکلیفُونه چه په اَنطاکیه، اِکونیوم اَوۡ په لُستره کښے په ما راغلل خو مالِک زۀ دَ هغو ټولو نه بچ کړلم. ۞۱۲ بلکه هر څوک چه دَ مسیح عیسیٰ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په یووالی کښے په دینداریٔ ژوند تیرول غواړی، هغویٔ ټول به وربړولے شی. ۱۳ اَؤ
خراب اَؤ دوکه باز سړی به په دوکه ورکولو اَؤ دوکه خوړلو لا زیات ورانیږی. ۱۴ خو
تۀ په هغه خبرو چه تا زده کړے دی اَؤ دَ کُومو چه تا ته یقین درکړے شوے وو، په دے
نیت قائم اوسه چه تا هغه دَ کُومو خلقو نه زده کړے وے. ۱۵ اَؤ تۀ دَ وړُوکوالی راسے
دَ هغو پاکو نوشتو نه خبر یئے، کُومے چه تا ته په عیسیٰ مسیح دَ ایمان راوړلو دَ
خلاصون مُوندلو دَ پاره پوهه دربخښلے شی. ۱۶ هره صحیفه دَ خُدائے دَ رُوح دَ اِلهام
په وسیله ده اَؤ دَ تعلیم اِلزام، اِصلاح اَؤ صداقت دَ تربیت دَ پاره فائده مند هم. ۱۷ دَ
دے دَ پاره چه دَ خُدائے بنده کامل شی اَؤ دَ هر نیک کار دَ پاره بلکل تیار شی.

۴ ۱ دَ خُدائے اَؤ دَ مسیح عیسیٰ په وړاندے چه به دَ ژوندو اَؤ دَ مړو عدالت کوی، دَ
هغۀ دَ ظاهریدو اَؤ دَ بادشاهئ په دریادولو زۀ دَ هغۀ په نامه حُکم در کوم. ۲ چه تۀ دَ
کلام زیرے ورکوه اَؤ وخت ناوخت په دے کار کښے تیار اوسه، اَؤ چه تعلیم ورکوے
نو دَ صبر سره ئے قایل اَؤ ملامت کوه اَؤ تسلی ورکوه. ۳ ځکه چه داسے وخت به
راځی چه خلق به صحیح تعلیم نۀ زغمی، بلکه دَ خپلے خوښے په مُطابق به داسے
اُستاذان جوړ کړی چه هغویٔ ته به هغه څۀ وښائی چه آؤریدل ئے غواړی. ۴ اَؤ
هغویٔ به حق ته غوږ نۀ کیږدی اَؤ قِصو ته به پام کوی. ۵ خو تۀ په هر حالت کښے
بیدار اوسه، سختی وزغمه، دَ بشارت کار کوه اَؤ دَ خُدائے دَ خادم په حیث خپل خدمت
پُوره کوه.

۶ ځکه چه زۀ اوس قُربانی کیدُونکے یم اَؤ زما دَ رُخصتیدو وخت راغلے دے. ۷
هغه جنګ چه ما ته په دے دُنیا کښے کول وُو، ما په ښه شان وکړو، خپله منډه مے
پُوره کړے ده اَؤ هغه ایمان چه ما ته سپارلے شوے وو، هغه مے محفوظ ساتلے دے.
۸ اَؤ وړاندے زما دَ پاره دَ صداقت دَ ګټے سهره کیښودے شوے ده چه عادل
مُنصف، یعنے مالِک به ئے ما له په هغه ورځ راکړی، اَؤ یواځے ما له نه، بلکه هغه ټولو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له هم چه دَ هغهٔ دَ ظاهریدو آرزُومند دی.

## شخصی نصیحتُونه

۹ ما له دَ راتلو زر کوشِش وکړه. ۱۰ ځکه چه دَ دیماس دا موجُوده دُنیا خوښه کړه
اَؤ زَهٔ ئے پرېښودلم اَؤ تِسالونیکے ته لاړو اَؤ کریسکینس ګلتیه ته اَؤ تیطوس دلماتیه ته.
۱۱ یواځے لُوقا ما سره دے. مرقوس ځان سره راوله ځکه چه هغه زما په خدمت
کښے په کار دے. ۱۲ تخیکوس مے اِفسوس ته اَستولے دے. ۱۳ کُومه چُوغه چه ما
په تروٰاس کښے دَ کریوس کره پرېښے ده، تهٔ چه راځے نو هغه اَؤ کتابُونه خاص په
څرمنو لیکلی اَؤ نغښتی شوی دَ ځان سره راوړه.

۱۴ سکندر مسګر زما سره ډېرے بدے کړے دی. خُدائے به هغهٔ ته خپل بدل ورکړی.
۱۵ دَ هغهٔ نه تهٔ هم ځان ساته، ځکه چه هغهٔ زمُونږ دَ پیغام ډېر مُخالفت کړے دے.

۱۶ په عدالت کښے زما دَ وړُومبۍ صفایۍ دَ پیش کولو په وخت هیچا زما ملګرتیا ونهٔ
کړه بلکه ټولو زهٔ یواځے پرېښودلم. کاش! چه هغوئ په دے ګُناه ونهٔ نیولے شی. ۱۷
خو مالِک زما مددګار وو اَؤ هغهٔ ما له دا طاقت راکړو چه زما په معرفت دا زیرے په
پُوره طور خور شی اَؤ ټول غیر یهُودیان دا واؤری اَؤ زَهٔ دَ زمری له کُومی نه راخلاص
کړے شوم. ۱۸ مالِک به ما دَ هرے بدۍ نه خلاصوی اَؤ خپلے آسمانی بادشاهۍ ته به
مے په حفاظت رسوی. دَ هغوئ لوئی دِ تل تر تله وی آمین.

## سلام

۱۹ پرسکیله، اکوله اَؤ دَ اونِسیفوروس په خاندان مے سلام ووایه. ۲۰ اِراستوس په
کورنتوس کښے ایسار شو اَؤ تروفیموس ما په میلیتوس کښے پرېښودو ځکه چه هغه
ناجوړه وو. ۲۱ دَ ژمی دَ موسم نه وړُومبے تهٔ ما ته دَ ځان رارسولو کوشِش وکړه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوبولوس اَؤ پودنس، لینوس، کلودیه اَؤ نور ټول وړُونړه درته سلام وائی.

۲۲ مالِک دِ تاسو سره وی اَؤ په تاسو دِ دَ خُدائے فضل وی!


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.